# د پير روښان

## مذهبي او سياسي غورځنګ او د محققينو د څېړنو محاکمه

عبدالکريم بريالے

**Abstract**:

Religious and Political Movement of Peer Roshan; An analysis of the researchers accounts.

Bayzeed Ansari (----) also known as Peer Roshan has been one of the influential scholar, spiritual mentor, literary dissent, political leader and warrior, whose work and struggle carved deep impacts on the various domains of literature, spirituality, Politics and history from almost last four centuries. As a spiritual genius, critically conscious writer and politically active individual he launched an overarching movement stemmed in spiritual purification, social justice and political awakening for establishing an independent Pashtoon state. His struggle started emancipating the people with enlightened religious and political thoughts which created an overwhelming vibrancy at local level power structure and in the dominion of Mughal empire. Peer Roshan's literary, spiritual and political struggle was sustained by his pupil and family almost for four generations. In order to degenerate the image of Peer Roshan an organized force was even nurtured which resulted in propagating and distorting the image of Peer Roshan and his movement. This paper is going to investigate and analyze the perspective of various researchers and historical accounts who have presented controversial image of the personality and his political and religious movement. The diverse point of views are triangulated and synthesized which generate a moderate and objective account on the life and struggle of Peer Roshan.

مغلي باچا ظهيرالدين بابر چې کابل ونيو نو يوه ورځ د بهزادي کلي د قاضي په کور کښې مېلمه شو او شراب يې وغوښتل. قاضي انکار وکړ او ورته ويې ويل:

"که دې زما په کور کښې شراب وڅښل بيا ته باچا نۀ يې".(1)

وروسته یې د افغانستان په ولقه له پښتنو سره مقاومت پیل شو چې هر ځای به یې پښتون وموند د هغه سر یې اره کاوۀ. تر دې چې ډېرې کله منارې یې ودرولې. په خپل تزك بابرنامه کښې لیکي چې:

"یوه ورځ یو ډېر ښکلې ځوان په ډېر تاخت روان ؤ. او سپاهیانو پسې ځغاستل نۀ یې شو نیولای. او بیا یې د نیولو په وخت کښې ما ته اندازه وه چې د دۀ سره څۀ چل کیږي"(2)

دا ډول یې د تاخت او تاراج سلسله د هند په لورې روانه کړه تر دې چې په هند یې حمله وکړه. او دریمه حمله یې په بهیره ښار باندې کړې وه چې د کال 925هـ مطابق 1519ء سره سمون خوري"(3)

د بایزید روښان د پیدایش کال چې محققینو ۹۳۱هـ ټاکلې دے. د یوې کره حوالې څخه چې حالنامه د علي محمد کندهاري یې ذکر کوي چې:

"د بایزید پلار عبدالله د زوئ د څلوېښتي پس بېرته کاڼي ګرم ته ستنېدلو نو حالنامه لیکي:

"بعد از چند سال لشکر مغلی سوے هندوستان آمد. شهر بهیره را تاخت نمود. و خانه خدا داد و نیز در بهیره بود. مالش به تاراج وخت و شیخ خداداد اهل خانه خود به شهر جالندهر رفت"(4)

ترجمه: (له څو کالو وروسته مغلي لښکر د هندوستان خوا ته راغلئ. د بهیره په ښار راغلو. د خداداد کور او دی په بهیره کښې وو. د دۀ مال تاراج شو نو شېخ خداداد له خپله کوره سره جالندهر ته ولاړ).

د بایزید د کره پیدایش تاریخ د اټکلولو دپاره د حالنامې د تاریخي واقعاتو له پلوه زیات حقیقت ته نزدې څرګندیږي. په دې لړ کښې څېړونکو ډېرې کره اندازې ټاکلي دي. علامه پوهاند حبیبي، علامه پوهاند عبدالشکور رشاد او مولانا عبدالقدوس قاسمي په دې لړ کښې حقیقت ته نزدې اندازې ټاکلي دي. چې په هغه کښې د 931هـ کال نېټه ټولو ورستنیو مؤرخینو نقل کړې ده. قلندر مومند کال ۹۲۸هـ هم اټکلولې دے. دا ځکه چې د بهیره نیولو پینځه کاله وروسته دا کال موزون ورته ایسېدلے.

" کله چې بابر د پاني پت په ميدان د ابراهيم لودهي فوځ ته ماتې ورکړه. او هغه يې په کال **1526**ء کښې شهيد کړ چې د ګواليار حاکم ورکماديتا يا د خپلې قربانۍ د جذبې په خاطر ورسره ومړ"(**5**).

د هم دغه تاريخي واقعې په اساس پوهانو د حالنامې له دې عبارت څخه د بايزيد د زوکړې کال انداز کړی. چې د بهير د نيولو او د ابراهيم لودهي د ماتې خوړلو تر کلونو پنځه کاله له مخه به د بايزيد د پېدائش کال ټاکلے شو چې **932**هـ پرېوځي. او هغه جمله دا ده:

"بعد از يك سال کم و بيش مخلوق هندوستان را ز افغانان ګرفتند و در آن وقت بايزيد قدس سره پنج ساله بود"(**6**).

که چيرې دې ته ځوك پاملرنه وکړي نو پينځۀ کاله وروسته د هغه د زوکړې کال ټاکل به **927**هـ د کال **1521**ء سره برابر وي. خو بيا هم د پينځو عالمانو د کره څېړنې باوجود په دې تاريخ باندې اتفاق نۀ دے راغلے.

بابر د هندوستان باچاهي ونيوله. تر دې وخته پورې يې شراب نۀ ؤ پرې ايښي او د پاني پت سره نزدې د يوۀ بل قاضي په کور کښې يې څښلي وو او هغه ته يې شل زره پاوه په انعام کښې ورکړي وو. د قاضي د دې دندې يادونه کول د قاضي عبدالله د زوئ چې وروسته بايزيد پير روښان شو په نسبت ارادتاً ذکر کول ؤ چې دے هم پلار قاضي جوړول غوښت. بايزيد د يتيموالي په حالت کښې د خپل پيدايش له ځايه څخه ليرې د کاڼي ګرم په غرو کښې ژوند کاوۀ. او د ميرې مور سره يې ژوند تريخ ؤ. او په کوشنيوالي کښې به جالندهر ته تلو راتلو چې هلته د هغوئ ژوند د خپل پلار عبدالله په نسبت د اکا خدايداد سره زيات په ارام ؤ. د مغلو د تاخت و تاراج او د دوئ د کورنيو د لوټلو وروسته چې د پخوانيو اسنادو حواله د هغۀ ژوند زهير شوے ؤ. بايزيد بېرته خپل وطن ته ستون شو او د هغۀ ژوند د محروميو سره مخامخ شو چې د مور د مرګه پس د پلار سخت ګيري "چې مور ميره شي پلار پلندر" نو د بايزيد يو ژور محروموالے په برخه شو، د پلار سره يې د سبق ويلو په باب اختلاف پيدا شو چې هغۀ د خپل ترۀ اسماعيل سره ځان ونيو او پلار يې دا نۀ غوښت او د هغه له ترۀ سره نزدېوالي د خداداد په سوب ؤ چې د هغه د کورنۍ مشر ؤ او بايزيد ته يې مينه ورکړې وه. قاضي عبدالله د وخت عالم سړے ؤ او دغسې يې په خپل

قاضیتوب کښې غوښت چې څهٔ قدر یې په ټولنه کښې د قدر و منزلت د مادي او اختیاري واکداریو په سوب ؤ. خو بایزید د درس او خدمت پیري او مریدي سلسله له اسماعیل سره داسې وساتله چې پلار یې داسې سلسله نهٔ غوښتله.

بایزید د خلقو ظاهر او باطن سره سنجاوه او د پلار څخه یې بغاوت وکړ حتیٰ چې پلار دے د مکې معظمې له زیارت څخه هم را وګرځاوهٔ او دا یې ورته ویلي ؤ چې:

"ستا حج نهٔ کیږي چې تر څو د پلار اجازت نهٔ وي"(7)

بایزید په خپل اجتماعي، سیاسي او نفسیاتي پس منظر کښې داسې ګڼ عوامل درلودل چې له هغه څخه د دوئ د تصوفي مکتب یو معیار را پورته شو.

د مغولو سلطه او جبر، د کور لوټل، د مور یوه زرې ورځ، د پیرانو او منورې طبقې د پیر پرستۍ او د ټولني د کمزورو وګړو سره نا مناسب سلوك د قاضیتوب په نامه د خلګو څخه اخستني کول او په خپل کور کښې د ناوړه سلوك په وجه دهٔ ځان ته یواځې لاره وټاکله. که څهٔ هم هغه وخت تصوف او خانقاه د نالوستو خلګو د تربیت او راګرځولو یوه لاره وه. او دے هم پر دې لاره روان شو چې پلار هم ملګرتیا نهٔ ورسره کوله. هغه یواځې د خدایداد د میني او سلوك څخه مطمئین ؤ چې هغه مړ شو. یواځې د هغه د کورنۍ د شیخ اسماعیل په درګاه کښې یې ځائ وموند. پلار یې د خواجه بهاؤالدین په لورې ملتان ته استواؤ خو بایزید هلته نهٔ تلهٔ. دا ځکه چې تصوف په خپله مادي عوامل لري. او د وخت سره سم نوي افکار په کښې راځي او بایزید به نوې لاره غوره کړې وه محمد طاهر علمي لیکي چې:

"په دې کښې اجتماعي مؤسسات د هر وخت له تقاضا سره سمه نوې بڼه غوره کوي او خپلې کړنلارې مطرح کوي. چې د ځینو په نزد د لټانو او بېکارانو د تربیه کولو غوره وسیله ده. یوه زړه لاره ده چې د بشر موفقیت په کښې غیر ممکن دے. نویتوب په کښې نشته او ځینې خلګ یې د ټولنې بهبود او اخلاقي تربیت په کښې لټوي چې د ټولنې جامع ښېګړې او د نفس په تزکیې پورې یې مربوط ګڼي.

د تصوف په حقله د صوفیګري مؤلف احمد کسروي دا د چنګېز د حملو په نتیجه کښې راغلے ګڼي. او وایي چې:

"اولس له ويرې او واکه وواته نو دنيا يې هم دغه پناګاه جوړه کړه. ذکر اذکار کول، په کونج کښې چيلې کښل، يو ځائ ليکي:

"ليکن از انجا که صوفيګری برخي انسانيها در زندګی در برميداشت و باتنبلي و تن پروری می ساخت و آنسوی انبوه کسان کناره شدن از مردم و يك دسته جداګانه بودن را اوست رواج روز افزون مي بود. و مردم نيز کم کم کوشان ګرافه ګويهای صوفيان پر شده ديګر نميديدند و بازار آنان نمي کوشيدند"(9)

د بايزيد مکتب له دې څخه يو څۀ فرق درلود لکه محمد طاهر علمي چې اشاره کړې ده. چې په هغه کښې پښتني او ټولنيز کوائف زيات غالب وو. مثلاً پسونه به يې څرل او د خلګو پټي به يې کتل او دا به يې ويل چې د بل مال هم داسې بوله لکه خپل. او د انسانانو د برابري دپاره آفاقي اصول په نظر کښې لرئي. عجبه اتفاق دے چې د دۀ د څلورنيمو کتابونو اساس هم دا متواتر حديث ګرځېدلے دے چې:

"المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده. (۱۰)

ژباړه: مسلمان هغه څوك دے چې مسلمانان د دۀ له لاسه او ژبې څخه په امان وي.

کورنے ژوند يې يو تمثيل دے. چې د ابراهيم لودهي د مرګ وروسته دمغلو د يکتا توري قائمه شوه نو د هغه د چپاؤ په نتيجه کښې د دۀ مور بي بي امينه کاني ګرم ته ولاړه او هلته چې يې ژوند تنګ شو او پلار يې مور طلاقه کړه او ببرته جالندهر ته ولاړه. نو دا خبرې په پښتني محيط کښې يو ژور نفسياتي اثر واچاوۀ. بايزيد ببرته جالندهر ته ولاړ او هلته چې د کوم ملا سليمان سره د کومې ناستې خبره اخوند درويزه کوي نو هغه د بايزيد د تصوف يا اسماعيلي خيالاتو سره هيڅ تړون نۀ لري. که څۀ هم د ملا سلېمان د هند په تاريخ کښې يو نوم راغلے دے خو په يمن کښې چې کومه اسماعيلي سليمانيه فرقه ده د هغه په حقله هيڅ يوه عالم د اخوند درويزه غوندې د بد ويلو خبره نۀ ده کړې. که محسن فاني يا مويد شاه دا خبره کړې ده نو هغه هم مسلمان نۀ ؤ بلکې آتش پرست وو. د بايزيد که څۀ هم د تعليم لاره کمزورې پاته شوه نو هغه په باطني او نفسياتي علم باندې زور ورکړ. په هم دغو وختو کښې د ابراهيم

لودهي د کورنۍ د يوې ښځي بي بي شمسو سره د دۀ واده و شو او بيرته شيخ اسماعيل ته راغې. دلته يې ټولنه پر ځان را کوره کړه. او قاضي عبدالله او د اورمړو نور خلګ په خطره کښې شول او له دۀ سره يې مباحثې پيل کړې. قبايلي تصادم مېنځ ته راغې تر دې چې خپل پلار دے په چاقو زخمي کړ بيرته داوړو ته ولاړ او هغوئ ځائ ورکړ. هلته هم د کلي د لوئے ملك سره يې پېښنه شوه. چې د هغو په پټي کښې چا آس زخمي کړے يا يې وژلے ؤ. بايزيد دا قبايلي پېښنه حل کړه او د خپلې خوا يې دوه اسان هغه ته ور واستول او په مرکه ورغے د مريدانو د حلقې په زياتوب سره يې پلار پرېشان شو او دۀ ته ورغے چې ته ځنګه سرے يې. او بحث يې ورسره وکړ چې ستا علم کم دے او ته داسې نابلده خبرې کوې خو د بايزيد په معقول موقف باندې د دۀ پلار په خپله حيران شو چې د هغۀ ځينې خبرې د پلار تر سر هم بالاتېرېدلې. بي بي شمسو به د دوئ مريدانو ته ډوډۍ پخوله. او خدمت به يې کاوۀ. حتٰى چې ښځې هم د هغو په موريدانو کښې شاملې شوې. چې قبايلي تصادم زيات شديد شو. نو بايزيد ته ښځې نصيحت وکړ چې:

"خوراك پوشاك يو ضرورت دے. د تجارت لار غوره کړه او دے د کاروان سره کندهار ته ولاړ په هغه وخت د محصول او ګمرك رواج زيات سخت ؤ او د کاروان څخه يې د مال دوې برخې په محصول کښې واخستې او يوه برخه يې دوئ ته ورکړه. دا ظالمانه او غير عادلانه روش د هغۀ په ژوند اثر وکړ. که څۀ هم د هغه وخت د کندهار حاکم بېرم خان ته شکايت کړے ؤ او هغه په ځواب کښې يو آمرانه تبسم ورته کړے ؤ.

هم دغسې نور عوامل د هغۀ په تصوفي روش کښې بدلون راوست او کله چې يې د هغه د ظلم او بربريت يوه ننداره وليده چې يوه ښځه يې د ژرندې د پله سره تړلې وليده او هغه چورلېده . بايزيد چې د ښځې مظلوميت او محرومي يو شديد احساس يې په لاشعور کښې د مور سره د ظلم په حواله موجود ؤ نو شديد عکس العمل يې دا هم ؤ چې ښځې ته يې له نارينه سره برابر مقام په خپلو مريدانو کښې ورکړ چې حتٰى د کمانډر په حيث هم لکه په روښانيانو کښې يې مثالونه شته. ډاکټر رفعت حسن د ښځو د حقوقو په حقله يو ځائ ليکي چې:

"د ښـځې حصــه د نارینــه ســره برابــره ده. دا اســتدراك ډېــر ژور او قابــل توجــه دے چې د قــرآن ســره د میــراث د مســئلې ســره پــه دې اســاس پــه هــیڅ ډول متصــادم نــۀ دے د امریکــې لــویس ویــل د پوهنتــون اســتاد ډاکټــر رفعــت حســن دا مســئله داســې مطـرح کـوي چـې قـرآن هـم د میـراث مسـئله پـه داسـې ډول تقسـیم کـړې ده چې پـه میـراث کښـې کلـه نـر د ښـځې برابـر وي چې بـل نارینـه وارث نـۀ لـري. او کلـه ښـځه د نارینـه برابـر برخـه لـري چې بـل نارینـه وارث وه نـۀ لـري. او کلـه د دوو ښـځو برابــر برخــه نارینــه تــه ورکــوي چــې دوې خونــدې وارث ولــري او د ترکــې دوې درېمې برخې ورکوي چې هغه بل وارث و نۀ لري"(**11**)

بایزیـد چـې راسـتون شـو نـو د وحدت الوجـود پـه فلسـفه یې عمـل وکـړ او پـوره پینځـه کالـه پـه چیلـه کښـې ناسـت ؤ. د هغـه وخـت د تصـوف کتابونـه چـې ده ځـومره لوسـتل غوښـت هغـه بـه ضـرور ورسـره وو. شـېخ اسـماعیل مـړ شـوے ؤ او نـور جعلـي پیـران د دۀ خـلاف را پورتـه شـو خـو بایزیـد پـه دوئ ټولـو زورور ؤ. دلتـه یـوه خبـره د یـادولو وړ ده چـې د بایزیـد خـلاف "اخونـد درویـزه یـا بایزیـدي مسـلك" پـه بـاره کښـې دویـم کتـاب دبسـتان مـذاهب چـې کومـه خبـره مشـهوره کـړې ده چـې د بایزیـد مریـدانو ډاکـې وهـل شـروع کـړې وې دا سراسـر غلطـه خبـره ده. کلـه چـې د تجـارت کـاروان راګـرځـول یـا لوټـل شـوے ؤ هغـه دې خلګـو تـه د خپـل تصـوف تبلیـغ کـول ؤ چـې وروسـته د دوئ تـر میـنځ تصـادم راغلـے ؤ. د بایزیـد موریـدانو د کـاروان سـرائے سـره د تصـادم د دې یـوې پېښـې پرتـه بـل مثـال نشـته او هـم هغـه وخـت چـې دے لـه کـانې ګـرم ځخـه تیـراه او د یوسـف زیـو لـوري تـه راغلـے ؤ. او بیـا د محسـن خـان د کابـل د حـاکم پـه سـوب مغلـو فوځیـانو دے نیـولے ؤ او پـه کابـل کښې یې محاکمه کړے ؤ.

د بایزیـد کنـدهار تـه تـګ د بهـرام خـان پـه وخـت کښـې ؤ چـې حبیبـي هغـه د کال 960هـ یا **961**وخت ښایي (۱۲).

د کابـل محاکمـه هـم تـر هغـه وروسـته ده چـې د مغـل فوځونـه د دۀ خـلاف را پورته شوي وو. قاضي دۀ ته وویل چې:

"تـا دعـوه کـړې ده چـې تـه مهـدي یـې. دۀ ویـل: "زه مهـدي نـۀ یـم. هـادي یـم. خلګـو تـه لاره ښیم. او بیـا هغـه ورتـه وویـل چـې تـه وایـې مـا تـه وحـي راځـي، دۀ وویـل وحـې نـۀ راځـي بلکـې الهـام وایـم. قاضـي ورتـه وویـل: "دا الهـام دې دکـومې وسـیلې

 څخه واخيست؟ ده ورته ويل چې: "زما د تصوف له اويسيه سلسله سره تعلق دے. او ما خپل الهام د قرآن او سنت له لارې ميندلے دے. او ښکاره خبره ده چې د الهام ظاهري او علمي معنا هم دغه ده چې څوك فکر وکړي او په زړهٔ کښې خبره ورګرځي. د نن ورځې په سائنسي ژبه (Universal Conscien tiousness) آفاقي ادراك ورته ويل کيږي. قاضي مطمئين شو او دے يې له تحفو او عزت و اکرام سره ايله کړ او دا وخت په يوسفزو، اشنغر کښې دوئ قيام درلود. او تر دې وخته خيرالبيان دوئ ليکلے ؤ. چې د فقه حنفي مسلك سره برابر د عباداتو او لږ د معاملاتو حال په کښې ليك دے. د خپل تصوفي مسلك څلور منازل او څلور مرحلې په کښې ذکر دي. په دې دوران کښې دوئ خلګو ته خطونه واستول چې د اکبر باچا د بدخشان حاکم د وخت لويو پيرانو ته چې يو پکښې پيربابا هم شامل ؤ. بايزيد چې د پير کامل په تلاش کښې چيله هم کښلې وه او په خپله دې مرحلې ته رسېدلے خو دا خبره د پير کامل ده، په خپله دعوه نۀ وه کړې بلکې په خيرالبيان کښې يې نشاندهي کوي او په صراط التوحيد کښې ليکي: "د هغۀ په تلاش پسې يم. البته په خيرالبيان کښې د پير کامل يا رهنما د پيروي ترغيب په تصوفي اقوالو يا په ضعيفه حديثونو باندې کوي. د پير کامل خطاب دۀ ته خپلو مريدانو ور کړے ؤ. پير بابا چې دا قصه واورېده چې په خپله د مغلو رشته دار ؤ او پلار يې د مغلو د دربار "نظر بهادر" خطاب هم ګټلے ؤ او د همايون باچا سره ايران ته تللے ؤ. دا خبره د مؤرخينو مخ ته ده چې تر تګ مخکښې يې له پير بابا سره ليدلي ؤ. همايون د بلوچستان (چاغي) له لارې ايران ته تښتېدلے ؤ او د چاغي ملك خطي بلوڅ هغۀ ته پناه ورکړې وه. دا خبره د همايون خور ګل بدن بېګم په خپل تاريخ کښې کښلې ده ځکه د پير بابا ملاقات ممکن نۀ ؤ. او بيا وروسته د خوب د لارې ګډې ته رسېدلے ؤ. او د سدوم په علاقه کښې يې سکونت درلود چې دا يې واورېدل. نو د اخوند درويزه په تذکره کښې د هغه يادونه سته او د انسائکلوپيډيا آف اسلام مقاله نګار په قول چې که په هغه: "ناقابل اعتماد تمسك کول دے، نو خلګ دې احتياط کوي دوئ د هغۀ مخالف ؤ. د پير بابا دا خبره اخوند درويزه داسې روايت کوي:

"قوي بلاي برين قوم افاغنين نازل شده معلوم نيست که نابود گردد چه درين حدود بادشاه اسلام نيست"(13)

يو عجبه اتفاق دے چې پير بابا او بايزيد دواړو ته د خوب له لارې د تبليغ او هدايت او پيغام رسيږي. بايزيد وايي چې ما ته حضرت خضر ملاؤ شو او وروسته ورك شو. مولانا عبدالقدوس قاسمي ورسره زياتوي چې "د مغلو زور په خليلو او مهمندو کښې ېخي وو. په دا وخت په مهمندزي او يوسفزي علاقه د بادشاه د اثر نۀ بهر ؤ. څکه پير بابا ويل چې باچا د اسلام نشته. ظاهره ده چې دلته باچاهي د پير روښان وه چې اخوند درويزه په بل ځائ کښې ورسره زياتوي چې د بايزيد غواړي چې د مغلو باچاهي واخلي دا خبره د وروستنيو انګرېزانو مؤرخينو دپاره هم د غور وړ وه چې اولف کېرو ليکي:

"د اکبر له دربار څخه جلا له خپلو مريدانو سره وتښتېدلو او د خليل، مهمند او تېرا افريدي يې د ځان ملګري وو ده ځان باچا ګڼلو:

**He actually assumed the title of king of the Afghan nearly two centuries before any such ponetate, Was due to appear in the history of those parts. (14)**

ژباړه: (ده د خپل ځان دپاره د افغان باچا نوم تاکلے ؤ چې دوې صدۍ مخکښې يې وجود درلود. تر دې له مخه چې د دې مځکې په تاريخ کښې يو داسې واکدار پيدا شي)

د بايزيد په تحريك پښتانه قبايل په دومره لوئے تعداد کښې شامل شول چې عبدالاکبرخان اکبر ليکي:

"نظام الدين احمد به له ډېره قهره د مېړيو لښکر بالۀ"(15).

دا د ملخانو او مېړيانو استعاره څۀ نوې نۀ ده. کله چې سلطان بهلول لودهي په هندوستان کښې باچاهي قائمه کړه. نو پښتانۀ يې له خپل وطن څخه را وبلل چې دوه تاريخونه تاريخ داودي د عبدالله او تاريخ شېرشاهي د عباس سرواني ليکي چې:

"پښتانۀ لکه د مېړيانو او ملخانو ور مات شول"(16)

د بايزيد روښان د توحيد د مسئلې په حقله د پيربابا او بايزيد يوه مباحثه شوې وه چې هغه وحدت الوجود ؤ چې تر دې له مخه شيخ محى الدين اکبر اندليسي په فصوص الحکم کښې ذکر کړې ده. د دې تفصيل په در لاسه شوو

منابعو کښې نشته. د اخوند بابا وينا د تمسك وړ ځکه نۀ ده چې هغه تاريخي واقعات د خپلو ښکنځاوو سره هم بې ترتيبه ليکلي دي. چې د توئ د افغانانو حواله ورکوي نو هم هغه غلط ښيي او مولانا عبدالقدوس دا په نخښه کوي"(17)

د پير بابا د بايزيد سره د پير کامل په سر اختلاف راغلے ؤ. ولې چې هغه کله اخوند درويزه د بيعت دپاره د هغه د استاد ملا زنګي په شديد سفارش او خواهش سره قبول کړے ؤ نو ورته ليکي:

"چې دے تر رياضت له مخه د پير کامل دعوې دار دے. (اخوند درويزه، ميا ظاهر شاه قادري)

شېر افضل برېکوټي ليکي چې:

"د اخوند درويزه اختلاف هغه وخت پيل شو چې بايزيد مقصودالمؤمنين په کال **978**هـ **1575**ء کښې ليکلے ؤ او بايزيد اخوند درويزه ته يې خط نۀ ؤ ليکلے" ګوا دعوت يې نۀ ؤ ورکړے. (**18**)

دا وخت پير بابا بونير ته تشريف وړے ؤ او د اخوند صاحب د تعليم او سلوك آغاز شوے ؤ. تقويم الحق کاکاخېل د مخزن په مقدمه کښې ليکي چې:

"اخوند درويزه په لوئے عمر کښې تعليم پيل کړ چې د 29 کالو که نۀ ؤ نو د 25 کلونو به ضرور ؤ او هغه تر تعليم له مخه هم لکه څنګه چې دوئ په خپله ليکي په رياضت او مکاشفاتو کښې اخته ؤ. اخوند صاحب په تذکره کښې ليکي چې:

"په کوشنوني به ما اکثره زړل مور به راځخه تنګه شوه او يوه چپلاخه به يې ووهلم. هغې ته دا هيڅ معلومه نۀ وه او نۀ به ما ورته ويلے شو چې زۀ د قبر د تنګي او د تيارې له هيبته ژاړم. چې لږ څۀ په ژوند پوه شوم نو د ورځې به ما روزه نيوله او د شپې به مې عبادت کاوه. او همېش به په ويره کښې اوسېدلم او د امر و نهي به مې خيال ساتلو. تر دې راته د نفس او بدن تذکيه او صفايي حاصله شوه. د نهي پابندي به زياته وه او ورځ په ورځ به مې د زړۀ صفايي زياتېدله چې له بلوغ ته ورسېدم نو هغه ورته حاصل شو کوم چې يې غوښت"(19)

د خپل ژوند واقعه اخوند درویزه د یو اتیا کالو په عمر کښې چې د ۱۰۲۱هـ سره سمون خوري لیکلې وه. په هم دغه کتاب کښې د خپل لوست حالات داسې وايي:

"یوه ورځ د جعفر غرځ ته په ښکار تللے وم چې د بونبر په غرو کښې ؤ، غشي او لینده مې په لاس کښې وو او په زړه کښې مې د اخرت غم و فکر ؤ. دوه کسان نابېره راغلو سپین ږیري وو او په لاس کښې یې لکړې وې، دواړو راته احسن الخالقین او رب العالمین وویل او غایب شول. اخوند دغه زده کړل خو پته ورته ولګېده چې دا څۀ معامله (کذا) ده. بیا مې دا قصه خپل استاد ملا مصر احمد چې سید محمود ولي له اولاده څخه ؤ وکړله. هغه ورته بله قصه وکړه چې ماښام ما په خوب کښې ولیدل چې په لوئے دریاب کښې غرق شوے یې. هر څو چې مې پښې وهلې له تابه لېرې کېدلم تر څو چې ته غایب شوې. د دې خوب د تعبیر ستا د واقعې سره سمون خوري که دې لوست شروع کړے او علم دې حاصل کړے نو یو مقام ته به ورسیږې. هغه ورځ ملا مصر احمد پر تختۍ حروف تهجي را ولیکل او په هغه ورځ مې تر ماخستن پورې اووه تختۍ توري کړې او په اخیر کښې مې احسن الخالقین او رب العالمین ولیکل او هره ورځ دوه سورتونه مې یادول تر سورة فجر پورې. هره ورځ مې یو سورة ویلے او په کال کښې مې قرآن او څو کتابونه نور هم ولوستل دا د خدائ فضل ؤ چې زما حافظه دومره قوي وه"(**20**)

بایزید له خضر سره ملاقات کوي او هغه هم د خوب له لارې او اخوند درویزه ته هم یوځ سړي چې غایب شي د "احسن الخالقین" توره وايي. دواړه اساطیري قیصې ښکاري.

لوستونکي دې دا عمل د بایزید د پنځو کالو د چیلې سره مقایسه کړي. د تاریخ پوهانو او عالمانو دا فیصله تر اوسه نۀ ده کړې چې آیا دا د بایزید روښان تر الهام یو دوې ګوتې بالامکاشفه نۀ وه. او هیڅ یوه ذمه داره تذکره نګار دې ته پام نۀ راوګرځولے چې دا د بایزید مقابله کول ؤ که مالیخولیار وه. داراشکوه د اخوند په باره کښې وايي او دا د مغلو نورو مؤرخینو هم ځنې اخذ کړے دے چې تر شلمې پېړۍ پورې را رسېدلے روایت دے چې شیخ اکرام ځنې استفاده کوي:

"در دفع زنادقه د ملاحده و روافض بسیار مي کوشید و هر جا که ملحدې یا رافضي شنیدي نزد او رسیدي و با او مذاکره کردي و اورا ملزم ساختي"(21)

دارا شکوه دا وینا هغه وخت لیکي چې روښانیان د مغلو سره په جنګ اخته دي او اخوند درویزه هغه وخت خاموش دے بلکې د بایزید د مرګ دېرش کاله وروسته کتاب لیکي او په هغهٔ کښې په بایزید تور لګوي بلکې اخون پنجو عبدالوهاب ترین ته هم بد وایي چې هغه ډېر لوئے او ستانه سړے ؤ. د تذکرې و ښکنځاوو او غیر اخلاقي خبرو ته يې پام نهٔ دے راګرځېدلے. اخوند درویزه که د سماع خلاف ؤ خو صرف د بایزید په وجه. حالانکې پیر بابا په سهروردیه او قادریه کښې هم ماذون ؤ. او اخوند په سهروردیه باندې د چشتیې سلسلې فوقیت په تلقین المریدین کښې هم کړے دے. د اخوند صاحب شهرت په تاریخ کښې یوازې د بایزید په مخالفت سوے دے او هم دغه يې کمال چې د قندوس دا پیاوړے تاجك افغان عالم ننګرهار او بیا اشنغر او بونیر ته را کوچېدلے دے. د اخوند صاحب د هندوستان دا څو کالو د تعلیم نور تفصیل معلوم نهٔ دے. په تذکره کښې یوه بله واقعه قلندر مومند ذکر کړې او غندلې هم ده. هغه نورو تذکره نګارانو شاید چې مصلحتاً نظر انداز کړې. دا مېلمستیا ورته بایزید په هشنغر کښې کړې وه او هلته درویزه د پردې تر شا د دوئ ننداره کوي او بدګماني کوي. په تذکره کښې یو ځائ د حضورﷺ څخه د حدیث یادونه کوي چې د جنګ او جدال په دوران کښې يې پښتنو ته ویلي ؤ چې:

"دوئ به دوزخ ته ځي بیا چې خلګ ناراض سو نو حضورﷺ وفرمایل:

حضرت خیر البشر فرمود شمارا نه گفته باشم بل اولاد شما بعد از شما جهال محض خوایند گشت زیرا که بادشاهي را کم قبول خواهند کرد. (22)

د مغلو د باچاهي د ساتلو دپاره داسې روایات جوړول د اسلام او د پښتنو خلاف یو مذموم حرکت دے. دا څنګه کېدا ے شي چې یو ځائ حضورﷺ دوئ ته جهنډی، د جهاد ورکوي او بیا ورته د جهنم خبره په هغه مبارکه ژبه ورته کوي. (الله بخش یوسفي تاریخ یوسفزي پټهان)

د مغلو د باچاهي قائمولو دپاره په خیر البشر پورې داسې خبرې تړل چې یوه محدث ته هم علم نهٔ وي او په خپله په بایزید پورې هغه خبرې تړي چې د

اوريدو نۀ دي. او اخوند صاحب په خپله د بايزيد د کتابو د سوځلو حکم ورکړے ۆ چې اوس ايله څلور کتابونه پاته سوي دي او د اخوند صاحب د کتاب دوه سوه نسخې پرتې دي.

محمد عبدالشکور د صراط التوحيد په مقدمه کښې ليکي چې: "بايزيد يو صحيح مبلغ سياستدان او اديب ۆ. اخوند درويزه د ذاتي مفاد او مذهبي تعصب په وجه ورته ملحد او زنديق ويلے دے" (23)

بله خبره ډيره د غور وړ ده چې د اخوند درويزه اصلي نوم نۀ دے معلوم. اخوند درويزه يې لقب ۆ ځکه د دائرة المعارف مقاله نګار يو نوم عبدالکريم ليکلے دے. لاکن هغه د دۀ د مشر زوئ نوم دے. او کله چې د مغلو باچاهانو ذکر کوي نو د پير بابا تعارف داسې کوي:

"ايشان خواهرزادها امير کبير ظهير الدين والدنيا ناصرالاسلام برحمته رب العالمين امير تيمور طالب الله ثراه و جعل مثواه بوده اند"(24).

هم دغه وجه وه چې د مغلو حاکمانو په ډوډۍ کښې به اخته وو. وروسته روښانيانو يوه خبره مشهوره کړې وه چې هغه د دې رد عمل ۆ چې په اخيري ورځ کښې يې ډيره ډوډۍ خوړلې وه او دارالقضا ته ولاړ. پروفيسر پريشان خټک خو تصريحاً ليکي چې:

"په هغه ماښام يې په بالاحصار کښې د ګورنر سره ډوډۍ وه"(25)

داسې بې مقصده پروپيګنډې چې مريدانو يو په بل پسې کوې، حالانکې د بايزيد دا وصيت ۆ چې:

"از مغولان دوري و اجتناب. (حالنامه)

خوشحال بابا که روښاني تحريک ته فتور ويلي دي خو عجبه دا ده چې هغه د ايمل خان هغه ته هم فتور ويل چې مراد ترې اغتشاش دے. خو د درويزه په حقله وايي:

"درويزه له يوه لوري را پيدا شه
په لږ علم په دا ملک کښې لوئے ملا شه

ملنګانو به يزيد ته کړې ښکنځلې
درويزه به د يزيد ډوزې وهلې

ملنګانو يې واړه ويست له سواته
دم يې وواهه له کشف و کراماته

يو کتاب دے درويزه سره جوړ کړے
چې د سوات خلق يې له علمه دي موړ کړے

نامعقول مجهول بيان ليکي بې ځايه
په کښې بد د سيد وايه يزيد ستايه (26)

له بايزيد سره شپه تېرول، ډوډۍ خوړل او بيا دومره غير اخلاقي حرکت او د خپل مقصد دپاره الزام لګول د داسې ولي کامل دپاره حتماً نۀ ښايي او نۀ يې عقل سليم مني. په تېره بيا چې 983هـ وروسته د بايزيد د مرګ په وخت د دومره نامعقوله مناظرو او غويمنډ وروسته د اخوند درويزه استاد پير بابا ته په بونير کښې سفارش کوي چې ده ته خلافت ورکړه. او پير بابا ورته وايي چې:

"ده ته د پير کامل مسئله ده. او د غيبو خبرې کوي که چيرې دے احتياط کوي او د ذمه واري مظاهره کوي بيا سمه ده.

(اخوند درويزه ميا ظاهر شاه قادري، پېښور)

هم داسې و شوه چې بيا دوئ ته خلافت ورکول شو. اوس دي لوستونکي فکر وکړي چې د مغلو د پلوي په ډول اخوند صاحب د کم صلاحيت باوجود څۀ ډول د توحيد او تصوف تبليغ کاوه. او د دۀ په دې کراماتو باندې منتخب التواريخ د عبدالقادر بدايوني او دبستان مذاهب د ذوالفقار علي مو بد شاه يا محسن کاشميري په دې اکتفا کوي. ملا عبدالقادر بدايوني سرکاري تاريخ نويس ؤ چې د مغلو د دربار سره منسلك ؤ او د اکبر باچا د علماوو تماشه ټوله هم ده جوړه کړې وه هغه ليکي:

"بایزید یو هندوستانے سپاهي ؤ. داسې الهام په هغه وخت کښې دۀ ته څنګه و شو چې سپاهي ؤ. او چې کله د جلاله په باره د "روستایي" کلیمه لیکي او اسلانوف یې حواله ورکوي نو قلندر مومند وایي چې:

"دا روشنایي دے حالانکې د روستایي معنا یې صحرایي او ځنګلي د پخواني لغت په انداز کښې مغلي مؤرخ ثبت کړې ده. دویم دبستان مذاهب مؤید شاه یا محسن کاشمیري د داراشکوه او ملا شاه بدخشي مرید او دوست ؤ او ازاد خیال سړے ؤ چې شېخ اکرام لیکي:

"د دې سړي حال نۀ دے معلوم چې کله او چیرې پیدا شو خو د البیروني غوندې یې داسې مواد د هر مذهب را غونډ کړي دي. او زیار باسي چې داسې هیڅ خبره و نۀ لیکي چې د هغه د مذهب منونکي یې په خپله تصدیق و نۀ کړي"(27)

دا خبره درسته نۀ ده. دے لومړے سړے دے چې د بایزید په حقله یې د خیرالبیان، صراط التوحید او حالنامې د لوستلو بغېر یې هغه معلومات ورکړي دي چې یواځې د مقصودالمؤمنین حواله ورکوي. هغه یو هم روښاني د هغه تصدیق نۀ کوي. یوازې د واصل روښاني سره یې لیدلي ؤ د بایزید په خلاف د اخوند درویزه هغه ټول اعتراضونه بنیاد نۀ لري تر دې چې هغه د پېغمبري دعوه هیڅکله نۀ ده کړې. او نۀ د دې مثال په کتابو کښې شته. خو دبستان مذاهب په لومړي وار دا پروپېګنډه وکړه چې لمونځ په هر طرف کول. باد به یې هم د اوبو پاکوونکے ګڼلو او بل د خپلو مریدانو علاوه انسان نۀ ګڼل د دې مثالونه په روښاني ادبیاتو کښې نشته ځکه د دبستانِ مذاهب الزامات ټول غلط دي. که چیرې دوئ د بایزید هغه اصلي حالنامه لوستې وې چې تر علي محمد مخلص له مخه دوئ ته رسېدلې وې. تر څو چې هغه نسخه یا بل استناد نۀ وي د دې الزاماتو به څۀ اهمیت نۀ وي. خو په تاریخ دبستانِ مذاهب کښې دومره خرابي را وستي ده چې وروستي انګرېزان چې غرضي هم وو هم په هغو لارو باندې تللي دي. اکبر چې د ملایانو د مباحثو تنګ سو نو یې نوې لار په دین کښې پیدا کړه نو هم د هغه په ژوند کښې بد ایوني یوازې ټهټه (سندهـ) د مرزا جاني خان خبره کړې ده بل چا ورته نۀ ویل او عبدالحق محدث دهلوي چې یې سخت مخالف ؤ او دا یې بد ګڼل خو فتوے یې صادره نۀ کړه. د اکبر د

مـرګ شـپېته کالـه وروسـته دبسـتان مـذاهب ورتـه ديـن الٰهـي وويـل. د سـير المتـاخرين مصـنف غـلام حسـين طباطبـاني ورتـه "بـې تعصـبي" او د "صـلح کـل" نـوم ورکـړو. خـو کـه پيـر بابـا تـه غيـر سياسـي وووېـل شـي خـو هغـه د ديـن الٰهـي پـه حقلـه فتـوٰے ولـې ور نـهٔ کـړه او پيـر روښـان تـه يـې پيـر تاريـك هغـه وخـت ووېلـو چـې نـواب محسـن خـان د بايزيـد خـلاف فوځونـه را ايسـتلي وو. د پيـر تاريـك خبـره پيـر بابـا نـهٔ ده کـړې بلکـې د اخونـد درويـزه پـه قـول مـلا زنګـي کـړې وه. چـې بايزيـد ورسـره د منـاظرې نـه انکـار کـړے ؤ او دا د هغـه انکـار نتيجـه وه. شـېر افضـل برېکوټي وايي چې:

"وروسـته د ديـن الٰهـي د طريقـې او روش اصـطلاح انګرېـز بـلاك مـين پـه ديـن الٰهـي بدل کړو. چې وروسته رائج سوو او بدايوني هم ورته روش يا **Cult** وايي. (**28**)

دبسـتان مـذاهب ټولـه هغـه پروپېګنـډه ده چـې هنـدو، مسـلمان، يهـودي، بېراګـي او بدهـ ټـول يـې سـره ګـډوډ کـړي دي او پـه خپلـو دوو لسـو تعليمـو فصـلو کښـې څـو نظـره هـم شـته. دا نومـوړے ذوالفقـار الحسـيني يـا محسـن فـاني د مسلمانانو طبقه داسې ښيي:

"از هنـدو و مسـلم و غيـرهم هـر کـس خواهـد بـه کـيش ايشـان در آيـد، مـانع نشـوند درپزيرنـدو گوينـد مسـلمانان نيـز بشـن را مـي پرسـتند چـه بسـم الله ايـن معنٰے دارد يعني بشن و بسم، بشن را ګويند"(**29**)

ژبـاړه: (هنـدو او مسـلمان او نـور هـر څـوك چـې و غـواړي يـو د بـل پـه مـذهب کښـې داخـل شـي نـو پـروا نـهٔ لـري او قبلـوي يـې. او وايـي چـې مسـلمانان د (بشـن) عبـادت هـم کـوي چـې بسـم الله د هغـه معنـا لـري يعنـي بشـن او بسـم هـم هغـه بشـن ته وايي).

د دبسـتان مـذاهب د ليکلـو (**1057**هــ) درې کالـه وروسـته د جهـانګير پـه زمانـه کښـې يـو مشـهور رئـيس او امیـر شـېخ فريـد بهکـري پـه خپـل کتـاب "ذخيـرة الخوانين" کښې په کال **1060**هـ کښې ليکي چې:

د بايزيـد کتـاب "خيـر البيـان" پـه وحـدة الوجـود بانـدې مـدلل کتـاب دے. او هـر تاويـل يـې لـه قـرآن او حديثـه دے. حقيقتـاً دا نـادره کتـاب دے چـې پښـتانهٔ يـې پـه ديـن نبـوي بانـدې را ټينـګ کـړل او موحـد خليفـه ګـان يـې پرېښـوول چـې هـر يـو د اسلام ستون دے. (**30**)

"د اخوند درویزه ورور ملا اصغر یو شعر په مخزن کښې لیکلے دے چې د مغلو مؤرخ د هغه کلکه حواله ګڼي چي د دې عقیدې د خرابوالي یادونه کوي. حالانکې هغه شعر له وزنه خالي دے. بلکې د یوې غزلې دوولس شعرونه په اوو جلا جلا بحرو کښې ویل شوے دے. چې خوشحال بابا د دې شعر په سوب درویزه ته ویلي ؤ: ع: درویزه نۀ مجتهد دے نۀ امام دے. روسے عالم پروفیسر مارتیروس اسلانوف لیکي چې:

دویمه حواله د Dr. John Leydan انګریزي لیکنه ده چې د اخوند درویزه صاحب په الفاظو کښې یې تحریف کړے دے. او درې قصې یې له ځانه په درویزه پورې تړلي دي"(31)

د نولسمي پېړۍ الفنسټن او راورټي د بایزید په حقله د اسماعیلي فرقې تړون کړے دے چې د مغلو د دور سره د کومې اصلي منابع حواله نشته. البته انګرېزانو په تیرا کښې د بنګشو او طورو شیعه مسلك و وجود د بایزید له باقیاتو ښخه ګڼي" (32)

دا هم د تامل وړ ده البته د جهانګیر او شاه جهان په زمانه کښې د بنګشو سیمه د روښانیانو یوه ملجا پاته شوې ده چې د روښاني اثرات سته او ډېر بنګش روښاني شاعران هم وجود لري.

په شلمه پېړۍ کښې اولف کېرو او د Encychlopedia مقاله نګار هم د راورټي په رایه باندې تاید کړې ده چې پښتنو محققینو ته د منلو وړ نۀ ده.

د هند د وېش د تحریك په وخت کښې یوه ابوالقاسم رفیق ته د ائمه تلبیس په نامه د دې خبرو د تکرار ضرورت محسوس شو او په کال 1937ء کښې یې د لاهور ښخه چاپ کړ"(۳۳).

په شلمه پېړۍ کښې په کال 1950ء کښې لومړے عالم د پښتو اردو او هندکو ژبې لوئے شاعر او عالم رضا همداني د بایزید پیر روښان په حقله په اردو ژبه په "ادبیات سرحد پښتو" کښې ولیکل:

"پیر روښان د لوئے شخصیت څښتن ؤ، ادب، فلسفه، تبلیغ، ارشاد او د قومیت په ټولو اړخونو کښې ماهر او د پښتو ژبې د پرمختیا باعث ؤ. خیرالبیان په څلورو ژبو د شریعت او طریقت او دیني مسایل د پښتو د سیاسي اجتماعي او بین المللي اتحاد بیان دے.(۳۴).

شیخ اکرام په "رود کوثر" کښې دا نیوکه د کوم مقصد په خاطر کوي چې:
"د رضا همداني بل څوك تائید نۀ کوي"(۳۵). (رود کوثر مخ **60**)
د شیخ اکرام دا خبره ځکه سمه نۀ ده چې ده د بایزید یو کتاب نۀ وو لوستے ځکه یې یوازې اخوند درویزه په نظر کښې ؤ. بیا په **1952** کښې صراط التوحید محمد عبدالشکور له پېښور میوزیم چاپ کړ او د رضا همداني د رایې اظهار یې وکړ.(۳۶)
اته کاله وروسته په کال **1960**ء کښې الله بخش یوسفي وایي چې: "د بایزید تحریك د پښتنو یو اجتماعي او سیاسي ؤ چې ټول قومونه او اولسونه یې په کښې شامل کړل، حتیٰ د پښتنو نه پرته په هند کښې داسې خلګ وو چې د هغو دپاره یې هندي یا پنجابي ژبه ته هم په خیرالبیان کښې ځائ ورکړ.(۳۷).
(تاریخ یوسفزے پټهان مخ **178**)
قلندر مومند د بایزید د الهام په حقله خاموش استقبال کوي لاکن د خیرالبیان په تنقیدي مطالعه کښې یې داسې نامعقول جدت غوره کړے دے چې ټول د قرآن آیتونه او حدیثونه او اقوال یې ځنې ایستلي دي او د بایزید په لهجه او **Diction** کښې یې لاس وهنه کړې ده چې یو غیر علمي او غیر تحقیقي کار دے. په مولانا عبدالقدوس قاسمي او عبدالحی حبیبي او د اسلانوف علاوه ټول افغاني لیکوالو باندې یې سخت برید کړے دے. او موقف یې دا دے چې: "دبایزید تحریك سیاسي نۀ ؤ
"دا هغه زړه بابولاله ده چې دوام لري او د مغلوالي استشمار نۀ پرې سترے کیږي. د قلندر مومند دغه موقف د انګرېزانو له پېروي کولو علاوه د ځینو تاریخي حقایقو څخه یې سرغړونه کړې ده. لومړے دا چې خپلې عقیدې ته یې د بایزید تر پلو لاندې د لاړې خلاصولو غیر مریي هڅه کړې ده. حالانکې بایزید موحد مسلمان ؤ او د پیغمبرې او مهدویت دعوه یې نۀ ده کړې او نۀ څۀ کره ثبوت په تېر پنځه سوه کاله کښې منځ ته راغلے دے. که چرې د موصوف په روسي او افغاني عالمانو باندې تنقید کول وي. نو هغه سمه ده خو بیا هم د دوئي سره د غریبو بزګرانو او کښیانو چې په کله ډېر کښې وو د هغه د تردید دپاره څۀ جواز نۀ شته. که نور نۀ وي نو د ډاکټر وارث خان د یادابښتونو څخه دي یو څۀ حواله واخلي چې انګرېزانو د خدایي خدمتګارانو سره یې څۀ کړي وو.(۳۸)

دويمه خبره يې دا کړې ده چې قلندر مومند په صفحه 93 باندې ليکي چې:

"خيرالبيان له يوه لحاظه تر ټولو اهم کتاب دے چې د دۀ کتاب نۀ دے بلکې "الهامي" کتاب دے. خدائ خبر د الهام نه د قلندر مومند څۀ مراد دے؟

ښاغلے سعيد ګوهر ليکي:

"دا باقاعده ليکل شوے کتاب دے چې اسماني، زميني، وهبي، کسبي، دواړو ډولونو د نقل يو مجموعي شکل دے"(۳۹)

بل مثال د اخوند درويزه په باره کښې قلندر مومند يوه اصطلاح وضع کړې ده "ضد بايزيد تبليغات" (۴۰)

بعينه د قلندر مومند په تحقيقاتو کښې "ضد حبيبي تبليغات" د دوئ په ټولو ليکنو کښې شته. مثلاً په کندهار کښې د ښځې زرندې سره تړل حبيبي د معارف مجلې څخه د ډاکټر جهانګير په حواله ليکي:

"قلندر مومند چې دا رساله وه نۀ موندله نو يې د حبيبي ترديد وکړ چې هغه هم نۀ ده ليدلې.

او بيا د دې پېښې په واقعيت پورې ګمان چلوي چې دا څنګه پېښېدلے شي. زه ګمان کوم که دوئ بابرنامه په غور لوستې وائ او د مغلو ظلمونه يې په نظر کښې نيولي واى نو داسې خيال انګيزي به يې نه وائ کړې. بل ځائ د مقصود المؤمنين د تصدير چې ډاکټر ميرولي محسود ډاکټريټ باندې کړے دے. او هغه تر قيمه حبيبي د ادبياتو په تاريخ کښې پوره ورکړې ده"(۴۱)

لاکن چې د دې نسخې تصدير چاپ سو نو هغه تر قيمه چا خرابه کړې ده.(۴۲)

چې دوئ ورته معما وايي نو ډاکټر مېرولي محسود دي د دې وضاحت وکړي چې دا نسخه دوئ چا ته د کتلو دپاره ورکړې وه، ولې چې حبيبي خولس کاله وړاندې لېدلې وه. انګرېز راورټي د خوشحال بابا په شعر کښې تصرف کړے دے او "شيطان" يې د بايزيد په نامه او "درويزه" يې د "پېغمبر" په نامه اړولے دے"(۴۳) ډاکټر بېليو چې د پېښور جېل له مطبعې څخه د خوشحال ديوان په کال **1870**ء کښې چاپ کړے دے په هغه کښې يو شعر چې اسلانوف يې هم ذکر کړے دے داسې دے:

نــس مــي اپرېــد ے د ے څــۀ غــم نــۀ لــري د ديــن
ښــۀ فکــر يــې لــرِ د ے ډېــر د ے بــدو وتــه شــين

زۀ د پيغمبـــــر غونـــــدې ايمــــان ښــــيم وده تـــــه
د ے لکــه شــيطان غونــدې د کفــر کــا تلقــين (۴۴)

قلنــدر مومنــد د دې خبــرې تائيــد کــوي چــې: "لاس وهنــه شــوې ده. د کامــل مومنـد حوالـه هـم ورکـوي چې چـاپ نسـخه خـو يې لوستې يـا ليـدلي نـۀ ده خـو لاس وهنه د کاتب په سر ور اړوي. (۴۵)

پـه دې لاس وهنـې کښـې هـم سـعيد ګـوهر خطـا وتلـے د ے چـې ګڼـي دا ثابـت کـړي چـې خوشـحال بابـا هـم لکـه دروېـزه و پيـر روښـان تـه "تاريـك" ويلـي ؤ. او دا ډول د بايزيـد د جملـې پـه قـرآت کښـې خطـا وتلـے د ے چـې: "پـه واړو پيغمبرانـو د دوئ دې پـس روان" د ژبـې تحريـف تـه رجـوع کـوي. حـافظ عبدالقـدوس قاسـمي پـه حاشـيه کښـې ليکـي چـې: "واو عاطفـه" د کاتـب نـۀ پـاتې شـو ے د ے. د دوئ ټکـي مخکښـې "او" غـواړي او د دوئ اشـاره خـاتم الانبيـاء تـه تکلفاً ده. پـه خيـر البيـان کښـې يـو بـل ځـائے د دې تـوري (د دوئ دې پسـې روان) معنـا پـه فارسـي کښـې ليکي چې د هغه په واړو پېغمبرانو باندې چې راغلي دي"(۴۶).

د قلنـدر مومنـد پـه حاشـيه **51** کښـې غلـط ثبـت سـو ے د ے چـې "عـه م" عليـه السـلام نشـته بلکـې پـه عکسـي چـاپ کښـې صـلی او عليـه السـلام دواړه شـته، او وروسته "عه م" هم شته خو په متن کښې "صلی" ټکے پاتې شوے د ے.

(عکسي نسخه کابل چاپ) (پېښور چاپ)

او دا تعبيـر لاتراوسـه پـاتې د ے چـې د بايزيـد "پيـر تمـام" د مهـدي يـا ولـي پـه زمـره کښـې راځـي. کـه ځنګـه؟ لاکـن د بايزيـد پـه حقلـه د محققينـو قيـاس آرائـي او تعبيـر د بايزيـد د توحيـد مسـله پـه مخمصـه کښـې اچـولې ده او هـر سـړي تـه دومـره ښـم ورغلـے د ے لکـه تقـويم الحـق کاکاخېـل تـه چـې د اخونـد دروېـزه د ذهنـي کيفيت د ځرګندولو په حقله ليکي چې:

"هغـه بايزيـد تـه د پښـتنو دهمکـۍ غونـدې وايـې چـې: "ګـورو بـه سـره" او اکبـر باچـا تـه چـې بايزيـد صـراط التوحيـد واسـتولو او ديـرش (**30**) ورقـي يـې پـه فارسـي کښـې د خپـل ژونـد حـال وليکلـو نـو بـابر باچـا د مريـد کېـدلو وروسـته يوسـفزيو تـه

خطونه استولي وو. چې اخوند درویزه په خپل شعر کښې ذکر کړے دے چې:
"و دې تاریك بندي په کورونو کاښي مه اوروه"(۴۷)

تقویم الحق کاکاخېل چې د روښانیانو د حال جایزه اخلي نو په داسې طنزیه انداز کښې لیکي:

"په پښتنو کښې د قومیت احساس را ویښ شو او د خپلو ورکو تلاش یې شروع کړ نو د تاریخ په پاڼو کښې یې یو نوم دا هم ومنتو چې د پښتونولي په لار کښې بهېدلې وینې د دې نوم نه چاپېره یو شپول جوړ کړے". د دې د اولاد قرباني ښکارېدلې د هغوئ همت او جرات ښکارېدو د هغې شا ته د دۀ نوم نرے نرے ځلېدۀ. نتیجه یې دا سوه چې دې اختلافاتو ته یې د سیاسي اختلافاتو رنګ ورکړ. (۴۸)

هم داسې اولف کېرو وایي چې که څۀ هم په ابتدا کښې مذهبي تحریك ؤ خو وروسته یې سیاسي رنګ واخستلو. لاکن اخوند درویزه چې د جلاله د شوکت خبره په شعر کښې کوي:

دغه لاپه یې په خولۀ کړه زۀ بادشاه د پښتنو یم
پښتنو سره ښۀ کړم پښتانۀ را پسې ځي
زه به ماتي دروازې کړم د آګرې او د سیکرې"(۴۹)

بیا چې کله د پیر بابا د مرګ 28 کاله وروسته تذکره هم په بل چا باندې لیکي نو په هغه کښې د احداد د قیادت هیڅ ذکر نۀ کوي او په تذکره کښې څۀ خبرې دوئ لیکلې دي. نو خپل پلار د ټولو کتابو په باب د دۀ خپل زوے عبدالکریم لیکي چې:

"په دې کښې تحریف او لاس وهنه شوې ده اخوند درویزه تذکرة الابرار والاشرار په خپله نۀ دے لیکلے بلکې زوئ ته یې قیصې کړې دي او دا د کتاب په لومړي سر کښې دي. (د خیرالبیان تنقیده مطالعه)

خو د دې برعکس د بایزید په یوه کتاب کښې هم تحریف نۀ دے شوے سیوا له حالنامې نۀ چې هغه علي محمد مخلص کندهاري دویم وار په کال 1057هـ کښې ترتیب کړې ده چې په هغه کښې د تناسخ په باره کښې لیکي چې:

"دا زمونږ د فرقې عقیده نهٔ وه"(۵۰)

څرګنده ده چې د مغلي باچاهانو مؤرخینو په شمول دبستانِ مذاهب دا خبره د اسماعیلي عقیدې سره ورپسې تړلې ده.

تر دې حده چې ایراني یو عالم ډاکټر محمد جواد مشکور هم د هغو مراجعو څخه اخستنه کوي او په بایزید پسې تړي.

مذهب وي تلفیقي از اسلام و مسحیت بود. و صاحب امالي یعني مجالس است که آنها را دو کتابي به نام خیر البیان ګرد اورنده اند ظاهراً این کتاب قدیمي تر ین اثر به زبان پشتو است، پیر روشن خودرا مسیح مي خواهد"(۵۱)

دا روایت هم غلط دے چې اسلام او عیسائیت یې سره ګډوډ کړي دي. بایزید کله هم ځان مسیح نهٔ دے بللے او نهٔ مقصود المؤمنین او خیر البیان د دې تائید کوي. ډاکټر راج ولي شاه خټک د حبیبي صاحب د هغه خبرې تائید کړے چې د ښځو په باره کښې د چرګ نیولو خبره تهمت وه او دا د پروپېګنډې او سیاسي اختلاف په وجه له شاهي دربار نه روا نه وه. خو د بایزید پېغام کښې تعصب او تنګ نظري نهٔ ښکاري ولې دے بیا هغه خبره کوي چې د هغه تحریك سیاسي زیات بلکې بېخي مذهبي دے. که څهٔ هم د هغه د مخاطبې انداز د جرمن فلسفي نطشې سره مماثل ګڼي"(۵۲)

قیام الدین خادم وایي چې: "د روښان شرعي او تصوفي عقیدې په مقابل کښې د خپلې ارادې د عملي کولو دپاره دلائل پیدا کول ؤ، نو دا د سیاسته بغېر نور څهٔ کېدا ے شي"(۵۳)

دوریانکوف "35" کاله وړاندې په یوه سیمینار کښې کره خبره دا کړې وه چې دبستان مذاهب لیکوال د دې فرقې په باره کښې بې ځایه اشتباه وکړه ولې چې خیر البیان د پښتو ژبې او د هغه د عقیدې اساس دے چې د تصدیق دپاره قرآن او حدیثونه د فارسي ژباړې سره راوړي او ژبني او کلتوري ښېګړې ښکاره کوي"(۵۴)

ښاغلي ډاکټر پرویز مهجور خوېشکي د علي محمد مخلص او ارزاني دیوانونه په ښه توګه ایډټ کړي او دا خبره یې جوته کړې ده چې هم دا د حالنامې علي محمد مخلص دے خو قلندر مومند او ډاکټر مغموم د اختلاف

باوجود که مخلص د ارزاني کشر ورور ملا علي ثابتيږي نو بيا د هغهٔ د شعر د خبرې هم تصديق کوي نو بيا امکان شته چې د حالنامې مخلص او د ديوان مخلص يو سړے څوك ومني ځکه د کال ۱۰۶۹هـ پورې د هغهٔ ژوند اوږد ېدلے شي. دا به تر هغه وخته پورې انتظار کوو چې د هغهٔ د هندي او فارسي ديوانونه هم را پيدا شي نو بيا د شك ازاله نوره هم کېداى شي.(۵۵)

خو عجبه دا ده چې د اکېډمۍ په چاپ کښې يې کال د کوم مصلحته هېر کړے دے.

د پير روښان او اخوند درويزه کتابونه چې په غور ولوستلے شي نو په هغه کښې د پښتنو د ژوند ژواك، عقيدې او د مروجه تعليماتو يو انعکاس په کښې موجود دے. د جهالت سره سره پيري او موريدي هم دومره ډېره وه چې ايله يو پښتون به هم بې پيره وو. حتٰے چې عمومي دعاېې تر نن ورځې را رسېدلي دي چې "په پير دي برکت شه". د مغلو د حکومت ټينګښت هم په قبايلو پورې تړلے دے ځکه د شمال له لوري چې په هند سوق الجيشي کېدله نو هم دغه پښتانهٔ په لار کښې پراته وو او د دوئ جنګونه ورسره کېدل. ځکه د داسې عرفاني او مذهبي تحريك څخه سياسي ګټه پورته کول په هر دور کښې يو تاريخي حقيقت ګرځېدلے دے.

پښتانهٔ او خارجي پوهان که هر څومره د خپل موقف دپاره دلائل وړاندې کړي خو په هغه کښې يو حقيقت هم موجود دے. که د درويزه نيکه ملا جيون اوږده ږيره درلوده او يوهٔ مهمند سړي په هغه پورې لاس وموښلو وروسته يې خپل لاسونه پاك کړل اوله دا څهٔ يوه دومره لويه مسئله جوړه سوه چې مغلو په مهمندو لښکر را وکيښ او بيا يې د مرکې له لارې دا مسئله حل کړه چې دغه د ږيري پاکولو د ملايانو عادت خو دومره اوږد دے چې جمال الدين افغاني په خپل تاريخ کښې د کندهار د خلګو دا عادت ليکلے دے او سړي ته ناوړه ښکاري. او وروسته د اخوند صاحب نيکهٔ په دې سيمه کښې د دوئ عرفاني مشر شو"(۵۶)

له دې سره برابر د بايزيد پلار عبدالله چې معتبر قاضي ؤ او د خپل زوئ يې هم دغسي قاضي جوړول غوښت چې ګټه وکړي خو بايزيد نتهه وکړه خو د پلار په ضد يې خپل عرفاني او اولسي کار ته دوام ورکړ. له دې څخه انکار نهٔ

شي کېدا ے چې د دې ابتدا په مذهبي ډول وه خو وروسته دا اولسي تحريك داسې سياسي شکل غوره کړ چې بايزيد د وخت ملايان او د ليري باچاهانو ته بلنه ورکړه تر دې حده چې اکبر باچا لاهم د دۀ د مريدۍ اعتراف کړے ؤ که څۀ هم هغه په اندرون کښې د کابل د باچا مرزا حکيم په مقابل کښې د يوې لويې بلا د پورته کېدلو پېش بيني کوله"(۵۷)

د بايزيد په ډول مذهبي تحريك شروع کول او هغه هم په خپله ژبه کتاب ليکل د شرق او غرب په دواړو سيمو کښې څرك ليدل کيږي لکه په اټاليا کښې د دانتې د ژبې د ژوند کولو انقلابي عمل سره نزدې مشابه دے، دانتې د لاطيني ژبې دا ئيستلو هڅه ده خو بايزيد د ژبو سره يو والے او پراخ نيتي لري او د مځکو تجاوزات په نظر کښې ساتي لکه د محصولات په اړه چې يې کاروان لوټل شوے ؤ. د شاه جهان او اورنګزېب په زمانه کښې په سند کښې شاه عنايت شهيد 1703- 1613 مير پور شاه نومې يو روحاني پير او شاعر هم او انقلابي رهنما دغسې د مځکو او پټو د ساتلو او بزګرانو ته د حقوقو ورکولو په سر څلوېښت زره بزګران وژل سوي. د بايزيد سره مشابه تحريك هم مونږ په هغه متشدد دور کښې وينو"(۵۸)

دلته د علماوو او منورينو په دين کښې اختلاف که په يوۀ طرف رحمت ورته ويل شوے دے خو زحمت هم ګرځېدلے دے. د بايزيد علمي سويه که هر څومره وه خو د دې دور کتابو په مندرجاتو کښې په زرګونه د قرآن آيتونه او حديثونه د خپلې خبرې د تائيد او تصديق دپاره راوړي. چې هغه د تحقيق له نظره يو شاهکار ضرور دے. د وحدة الوجود د مسئلې دپاره رسالۀ غوثيه او نور مروج ډېر کتابونه د دوئ تر مطالعې لاندې وو. ډاکټر مېرولي محسود چې مقصود المؤمنين ايډټ کړے دے په هغه کښې د 96 حديثونو د استخراج څخه معذوره شوے دے. لس اقواله د نورو کتابونو څخه دي د لسو معنا ګډه وډه شوې ده. او پينځه اويا هغه اقوال د صوفياوو دي چې د حديث په نامه ياد شوي دي"(۵۹)

مولانا عبدالقدوس قاسمي د خيرالبيان ډېره غوره تشريح او د عربي او فارسي ژبې غلطيو اصلاح هم کړې ده. په اخيري برخو کښې يې د تصوف موضوعي حديث ښکاره کړي دي. يو ځائ د بايزيد د الهام حواله ده. يو ځائ د

غـوث الاعظـم الهـام دے او یـو ځـائ د حضـرت عیسٰـی و الهـام تـه اشـاره ده چـې قلندر مومند په خپل انتخابي خیرالبیان کښې وروستنۍ حواله حذف کړې ده.

عبدالقـدوس قاسـمي یکـي یـو ځـائ د "یا یهـا الرسـول بلـغ مـا انـزل الیـك مـن ربـك" کښـې د بایزیـد و فارسـي ژبـاړې تـه لیکـي چـې: "دا خطـاب یـې عـام کـړے دے. او دایـې ورسـره پـه قوسـېنو کښـې لیکلـي دي "بایزیـد خطـاب را عـام بـر هـر پېغمبـر ګردانـد، شـاید از برائـې آنکـه خـود را نیـزي دریـن زمـره شـامل ګردانـد. د قاسـمي مرحـوم دا ګمـان غالبـاً صـحیح نۀ دے ولـې چـې د بایزیـد فارسـي بـه غلطـه وي لکـه پـه ټـول کتـاب کښـې چـې یـې پښـتو، فارسـي او عربـي سـمه کـړې ده. نـو دلته بایزید چې لیکلي دي:

اې "هـر کـدامي پیغمبـران" اصـلاح پـه کـار وه لکـه د یـا غـوث الاعظـم دپـاره چې په حاشیه "ایها الغوث الاعظم". تهییه شوے دے.

خـو د دې عـلاوه پـه زرګونـو حدیثونـه او آیتونـه لـږ د کتـاب د غلطـۍ سـره دوئ د خپـل موقـف د تایـد دپـاره راوړي دي چـې پـه هغـه دور کښـې داسـې څرګنـدېږي هـیڅ یـوۀ عـالم یـا پیـر دومـره قـدر کـار هـم نـۀ ؤ کـړے. د دې پـه مقابلـه کښـې د اخونـد دروېـزه مخـزن د څلـورو کتـابو مجموعـه د قـرآت رسـاله، د نسـفي د مـتن ترجمـه، قصـیده بـرده، او خلاصـه کیـداني او الـف نامـه او د دۀ د ورور مـلا اصـغر یـوه ناپړیتـه غـزل واړه د بایزیـد پـه مقابلـه کښـې هـیڅ معنـا نـۀ لـري. هـم دغـه رنګـه د پیـر بابـا څخـه د فتـوىٰ هـیڅ یـو تحریـر نـۀ دے مونـدل شـوے پینځـه کالـه وړانـدې پیـر بابـا تـه منسـوب د تصـوف یـوه نسـخه مونـدل سـوې وه چـې د هغـه تفصـیل پـه لنـډه توګـه معرفـي شـوے دے چـې هغـه د تصـوف پـه موضـوع یـو خونـدور او عالمانـه کتـاب دے او د مثنـوي پـه ډول د فارسـي شـعرونه پـه کښـې یـاد شـوي دي. او پـه دې نسـخه بانـدې د مغلـي باچهـانو د کتبخـانې مهرونـه هـم لګېدلي دي" (۶۰).

او چـې اخونـد دروېـزه د کشـف المحجـوب پـه حقلـه هـم منفـي رایـه لـري نـو د سـړي ګمـان وشـي چـې پـه هـوا کښـې یـې کشـف کـړے دے. د پیـر بابـا د مـرګ وروسـته د جلالـه او احـداد پـه زمانـه کښـې روښـاني تحریـك غونـډ سیاسـي قـومي بهیـر ګرځېـدلے دے چـې هـر پېروکـار یـې عـالم، فاضـل، شـاعر او د پښـتو ادب

برخه یې دومره درنه کړې ده چې د ښکنځاوو او نامعقوله خبرو څخه یوه هم نشته.

د مغلو سره تصادم دومره ښکاره دے چې د بایزید د زامنو د تدارك له لاسه په دوکه وژل او سرونه ورته وړاندې کولو وروسته یې مور وایي: "شکر دے زامن مي په کاسیرۍ کښې نۀ دي مړه" (۶1)

یا د اکبر او جهانګیر په دور کښې چې د جلاله او احداد سرونه دوئ ته راوړي نو اکبر او جهانګیر باندې فخر کړي او جهانګیر په خپل تزك کښې دا د یوۀ زړيي په ډول بلل" (۶2). ځکه نو د بایزید تحریك د مذهبي څخه قومي او اولسي ګرځېدلے چې د وطن د ازادۍ څخه پرته بل هیڅ مراد نۀ شي ځنې اخستل کېدا ے. روښاني تحریك دلته د سیاست هغه پړاؤ ته را رسیږي چې پوهاند حبیبي یې د سربازۍ، قربانۍ او عدم تسلیم او د پښتنو د حکومت جوړولو زیار بولي او پر مخ د عدم موالات او اجتناب حرکت د شلمي پېړۍ د ګاندهي له تحریك "ترك موالات" سره یې مقایسه کوي. Non cooperation یوه سیاسي اصطلاح وایي چې د هندوستان د ازادۍ خواهانو یوه وسله د انګرېزانو په مقابل کښې هم دغه وه چې اوسنے جمهوریت یې وګاټه. (۶3)

په نولسمي پېړۍ کښې د انګرېزانو د تعبراتو سره د دې تحریك مذهبي اړخ ټینګ نیول شوے دے حالانکې د دې خلاف هڅه یو مذهبي مقاومت د احداد د مرګ پس په دوو صدیو کښې نۀ لیدل کیږي. او چې راورټي د هغو مؤرخینو غوندې له ځانه شیخ کمال الدین روهیله متعارف کوي چې کامل مومند د هغه تردید کړے دے (64)

نو د انګرېزانو د تحقیق اصل مراد هم دا دے چې د پښتنو د قومي تحریك تعبیر په غلط رنګ کښې وړاندې کړي.

څرنګه چې د وحدة الوجود مسئله اختلافي راغلې ده نو د دې خبرې دومره اهمیت نشته چې د کفر په فتواګانو څوك باور وکړي. د بایزید روښان په علمي سطح اعتراض ممکن دے ولې هغه په خپله وایي چې زه یې عامي مېړه یم. هرڅۀ زما زده نۀ دي دا اعتراف هم کافي دے پوهاند حبیبي لیکي:

"که هغه په عربي کښې داسې غلطۍ نۀ وا ے کړې نو ممکن ده چې ملایان به د دۀ خلاف نۀ راپورته کېدل". (65)

کـه موضـوعي احاديـث پـه کشـاف بیضـاوي او پـه احيـاء العلـوم کښـې هـم شته نو بايزيد ګرم نۀ دے چې په دومره قاطع پروپېګنډه دي څوك باور وکړي.
بایزیـد د صـوفياوو اقـوال او مروجـه عربـي قولونـه او احاديـث سـره ګـډ کـړي چـې د هغـه احتسـاب ممکـن دے. د پوهانـد حبيبـي نيکـۀ حبيـب الله کـاکړ کندهاري د دې احاديثو په باره کښې ليکي:
"لازم نيسـت اگـر حـديث موضـوع باشـد، آنکـه مضـمون او صـحيح نباشـد. چـه بسـيارے از موضـوعات از قبيـل حکـم اسـرائيليات و از مقولـه کـلام حکـم او مقولات مشائخ طريقت مي باشد"(**66**)
د روښـاني غورځنـګ کـه څۀ هـم د يـوه مـذهبي پيـر پـه څېـر پيـل سـوے ؤ خـو د هغـه وخـت سياسـي اقتصـادي او معاشـرتي حـالات داسـې غوښـتني تـه روادار ؤ چـې بـدلون راسـي او د دې دپـاره لـومړے پـه يـو داسـې شخصـيت بانـدې را ټولېـدل لازمـي امـر ؤ چـې هغـه بـه پيـر کامـل يـا ليـډر جوړيـدو د مغلـو د لاسـه د لوټلـو. د خپلـو لـه لاسـه د بـې کـوره کېـدو او د معاشـرتي خرابيـو د ليـري کولـو وروسـته چـې بايزيـد د پيـر کامـل پـه لټـون ؤ چـې يـې نۀ مونـدۀ. پـه رياضـت او کوشـش او سياسـي مقاومـت پـه خپلـه جـوړ سـو. کـه **313** سـپاهيان يـو ځـائ کـول، باچهـان تـه خطونـه ليکـل، نـور خلـق منافقـان بلـل، هجـرت کـول او د ظـالم سـره پـه جنـګ اختـه کېـدلو تـه څـوك بلـه معنـا ورکـوي يـا تقـويم الحـق ورتـه لـه مـدني ژونـد سـره مشـابهت ورکولـو جسـتجو کـوي نـو دا ولـې فکـر نـۀ کـوي چـې بايزيـد پـه عـين حقيقـي توګـه د سـيرت نبـوي پيـروي کولـه ولـې چـې د هغـه يکـې يـو شـعار (**Slogan**) توحيـد ؤ. او پـر هغـه توحيـد بانـدې مـړ سـو چـې وروسـته يـې تـابوت هـم پښـتنو نـۀ پرېښـودلو او قبـر يـې تراوسـه ورك دے او د انتقـام د علامـت پـه ډول يـو بـل پـه دار ځـړوي چـې بنياد يې مذهبي او سياسي ګرځېدلای شي.
د شـلمي صـدۍ پـه تنـاظر کښـې د روښـاني غورځنـګ پـه مـادي او معنـوي ډول زمـونږ پـه چارپيريـال کښـې ګرځـي. د پښـتنو د جهالـت، د خپـل کـور خرابـول او وطـن بربـادول او د مـذهب او توحيـد پـه نامـه کورونـه ورانـول کومـه عنعنـه ده چـې مـونږ د دې رښـې پـه تـاريخ کښـې لټـولے شـو. هـم دغـه مځکـه ده چـې لـه کـاني ګـرم ځخـه را نيـولې بيـا تـر د مغـار او د تيـراه غرونـه او ويـړه پښـتونخوا او د افغانسـتان غرونـه او رغونـه يـې پـه مخـه اخسـتي دي. تاسـې فکـر وکـړئ چـې کـوم

يو مريد وسله وال به خپله يا د بل په پيسو ګمارل سوی يا د بايزيد روښان په اصولو او عزم باندې ولاړ دی او د توحيد پيروي کوي او د خپل وطن ناموس خوندي کوي. خو د دې هر څۀ باوجود د روښان د نسل تول وګړي د يوۀ مضبوط مرکز د لټون او د مغل څۀ د ځان د خلاصون لاره لټوي. نو دا کار ښخي سياسي اړخ لري.

روښاني تحريك د پښتون ملت دپاره يو علامت هم دی خو د مذهب په نامه چې څومره وحشت په دې سيمه خپور شوی دی هغه د دې قوم بنياد کښلی دی. بايزيد خپله د تشدد لاره نۀ غوښته خو جنګ باندې مسلط شوی ؤ. او بيا د انګريز په وخت د عدم تشدد لار غوره شوه چې باچاخان او عبدالصمد خان اڅکزي شهيد د دې لارې پيروي کوله خو د مذهب ناره په دومره غلط ډول د وحشت دپاره د استعمار له خوا په کار راوستل شوې ده چې په خپله د مذهب چاره کوونکي د دې تشدد پلويان دي. خدائې دې وکړي چې پښتانۀ خپل وطن له نور تشدد، بدنامي څخه وژغوري او د دې ناوړه، بدنامه او د تشدد ډکو دسيسو ټاکنه وکړي چې نړيوالو په مونږ مسلط کړې دي. او بويه که د خوشحال بابا دا شعر هر وطنوال زمزمه کړي:

هره چار د پښتانۀ تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نشته ډېر ارمان

# ماخذونه

(1) حبیبي، علامه عبدالحی، آریانا مجله، 1354هـ ، کابل مخ3 4.
(2) بـابر، ظهیـر الـدین، بابرنامـه، اردو ژبـاړه اختـر نـدوي لاهـور، 1957ء، مخ 230.
(3) مومند قلندر، د خیر البیان تنقیدي مطالعه، پېښور، مخ 11
(4) کنـدهارے، علـي محمـد، حالنامـه، د علومـو اکېډمۍ پښـتو ټولنـه 1346ش مخ 6
(5) بریـالے، عبـدالکریم، د لـودهي او سـوري باچهـانو امیـران، الفـت مجلـه، پېښور، مخ 467.
(6) مومند، قلندر، د خیر البیان تنقیدي مطالعه، مخ، ۴. ۵.
(7) د مقصود المؤمنین مقدمه (عربي) 1976ء اسلام اباد، مخ 10.
(8) طـاهر، محمـد، پیـر روښـان او د هغـهٔ د تصـوفي نښـوونځي د مختـه راتـګ عوامل، وږمه مجله، 1350هـ ش. مخ 37.
(9) کسروي، احمد، (تالیف)، د ایران چاپ، مخ 20
(10) مشکوة المصابیح. نسخه مجتبائي دهلي.
(11) رفعت، ډاکتر حسن، ډان انګرېزي اخبار، 7اګست 2009، مخ 3.
(12) حبیبي، علامه عبدالحی، د ادبیاتو تاریخ، 1342هـ ش، مخ 272.
(13) تـذکرة الابـرار والاشـرار، اخونـد درویـزه ننګرهـارے، اداره اشـاعت سرحد، پېښور (همایون نامه، ګل بدن بېګم) سن ندارد، مخ 139 تا 159.
**(14)Gahani khan The Pathan by olaf carao, London. P 213, 1958.**
(15) روښانیان د مغلو تاریکیان، مخ 62
(16) سرواني، عباس خان، تاریخ شېرشاهي، . کراچۍ، 1963، مخ 8
(17) د خیرالبیان مقدمه، پېښور چاپ، مخ 27
(18) بریکوټي، شېر افضل، پیر بابا، ، پېښور، 1999ء مخ 224

(19) تذکرة الابرار والاشرار، پېښور، مخ 158
(20) ایضاً مخ 160
(21) خزینة الاصفیاء، مخ 228
(22) تذکرة الابرار والاشرار، مخ 150
(23) عبدالشکور، صراط التوحید، مقدمه، ، پشاور میوزیم، 1952.
(24) تذکرة الابرار والاشرار، مخ 150
(25) ؟، خټک، پریشان، پشتون کون؟ ، پشتو اکیډمی پشاور، مخ 145.
(26) د خوشحال خان خټک کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، 2005ء، مخ 155- 756.
(27) محمد اکرام، شېخ، رود کوثر، اداره ثقافت لاهور، مخ 439
(28) برېکوټي، شېر افضل، بایزید انصاري، پېښور، مخ 224.
(29) محسن فاني، ذوالفقار علي، دبستان مذاهب، مخ 195.
(30) فرید، شېخ بکري، ذخیرة الخوانین، لومړی ټوك، پاکستان هسټاریکل سوسائیټي کراچي، بحواله محمد الله بخش یوسفي، یوسفزي پټهان کراچي. 1960ء، مخ 192، 195، پوهاند رشاد د ذوالفقار الحسیني او تخلص هوښیار لیکلی دے چې نسخه یې ورسره وه. (د روښان یاد)
(31) اسلانوف، کابل مجله، ژباړه د زمري محقق، مخ 26.
(32) a: Note on Afghinistan, and Balochistan. Quetta. 1978.
(32) b: Pattan p 203
(33) رفیق، ابو القاسم، آئمه تلبیس. لاهور، 1937ء.
(۳۴) همدانے رضا، پښتو ادب، مقدمه، 1951ء پېښور، مخ 23.
(۳۵) اکرام، شېخ، رود کوثر، ص ۶۰.
(۳۶) محمد عبدالشکور، مقدمه، صراط التوحید، پېښور، 1952ء.
(۳۷) یوسفي، الله بخش، یوسف زئي پټهان، کراچی، ۱۹۶۰ء، مخ 259 تا 263.
(۳۸) وارث خان، ډاکټر، د ازادی تحریك، پېښور، مخ ۱۹۰.
(۳۹) مومند، قلندر د ساهو لیکونکو مرکه پېښور، مخ 149. د سعید ګوهر مضمون، اصلي خیرالبیان.

(۴۰) د خیرالبیان تنقیدي مطالعه، مخ 50
(۴۱) د ادبیاتو تاریخ جلد دویم، حبیبي مخ 300، کابل.
(۴۲) دکتور، میرولي خان المحسودي، مقصود المؤمنین لبایزید الانصاري (عربي) مجمع البحوث الاسلامیه اسلام آباد، 1976ء مخ 128.
(۴۳) شینوارے، معتمد (ژباړن) د روښانیانو ملي نهضت، مخ 33.
(۴۴) دیوان خوشحال خان بزبان افغاني و فارسي، د جېل خانې طبع 1870ء او 1929ء د هوتي چاپ، مخ 162.
(۴۵) مومند، قلندر، د خیرالبیان تنقیدي مطالعه، مخ 171.
(۴۶) خیرالبیان، د بایزید انصاري پښتو اکېډمی، پېښور.
(۴۷) مخزن، مخ 157.
(۴۸) کاکاخېل، تقویم الحق، مقدمه مخزن، مخ ك
(۴۹) ایضاً
(۵۰) حالنامه، پښتو اکېډمی پېښور ټایپ، نسخه، مخ 252.
(۵۱) فرهنګ فرق اسلامي. ډاکټر محمد جواد شکور، 1322هـ، مشهد، مخ 206.
(۵۲) د پښتو ادبي تحریکونه، ډاکټر راج ولي شاه خټك، ص 70، 71، 72.
(۵۳) د روښان یاد، د خادم مقاله، 67.
(۵۴) د روښان یاد، ودور یاتکوف مقاله، مخ 150.
(۵۵) د علي محمد مخلص دیوان، پښتو اکېډمی پېښور،
(۵۶) تذکرة الابرار والاشرار، د اخوند درویزه، مخ 107.
(۵۷) اولف کېرو، مخ 207.
(۵۸) Wiki encychlopedia.
(۵۹) میر ولي، ډاکټر محسود، عربي، حاشیې، 1976ء اسلام اباد،
(۶۰) پښتو مجله، پېښور، 2004ء.
(61) کندهارے، علي محمد. حالنامه. د علومو اکېډمی کابل، ګستیتنر چاپ.
(62) تزك جهانګیري، انګریزي، اسلامي بك سروس لاهور. مخ 100.
Akbar. Dr. Ishtiaqu Hussain Quresni Karachi 1978, p 91- 92.
(63) د پښتو د ادبیاتو تاریخ، دویم جلد، 1342هـ مخ 9.

(۶4) کامـل، دوسـت محمـد خـان مومنـد، **1630**، پېښـور چـاپ، **1985**ء مـخ **58- 61**.

(۶۵) د پښتو ادبیاتو تاریخ، **1962**ء، مخ **391- 345**..

(۶۶)کنـــدهارے، مولـــوي حبیـــب الله، نقـــد الثقـــات فـــي تزئیـــف الموضوعات، د ادبیاتو تاریخ دوېم ټوك، مخ **295**.